مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د لړم پنځمه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۷مه | ٤٥١مه گڼه


# د ټاکنو کمېسیون خپلمنځي اختلافات؛

## لا هم د لومړنیو پایلو د اعلان نېټه نه ده مشخصه شوې



۳

### د مسکو غونډه او په چین کې پر بین الافغاني غونډه یې اغېز

۲ مخ

### د امریکا- طالبانو خبرې او په نړیواله سطحه د سولې هڅو ته کتنه

۲ مخ

### د قومي انډول په پام کې له نیولو پرته د حکومت ناقانونه گومارنې!

۳ مخ

## د ولسي جرگې د تېرې ورځې ناسته، د وکیلانو ترمنځ د شخړې له کبله بې پایلې وه

د ولسي جرگې د تېرې ورځې ناسته د دې جرگې د یوه غړي او دارالانشا د رییس ترمنځ تر لفظي شخړې وروسته، د جرگې د رییس لخوا ختمه اعلان شوه او په اجنډا کې د شاملو موضوعاتو په اړه خبرې ونه شوې.

د ولسي جرگې د رییسانو د کمېټې د پرېکړې له مخې، ټاکل شوې وه چې یاده جرگه تېره ورځ د ښاروالۍ د قوانینو په اړه د ولسمشر د ۳۲۳ شمېرې تقنیني فرمان او د اوسپنې پټلۍ د قانون د جوړېدو په تړاو، پر تقنیني فرمانونو باندې خبرې او رای گیري وکړي.

د جرگې په یاده ناسته کې هغه مهال جنجال زور واخیست، چې په ولسي جرگه کې د کابل د خلکو استازي حفیظ الله جلیلي اعترض وکړ چې نوموړي ته د خبرو کولو فرصت نه ورکول کېږي. هغه د سره کارت په پورته کولو د خبرو کولو د فرصت غوښتنه وکړه.

خو د ولسي جرگې رییس میر رحمان رحماني یې په ځواب کې وویل: «په امتیازي وخت کې اعتراض د داخلي دندو د اصولو خلاف دی، جلیلي صاحب مهرباني وکړه پر ځای دې کېنه او مزاحمت مه کوه».

د دواړو ترمنځ له ناندریو وروسته جلیلي په چټکۍ د ناستې د رییس او د جرگې د دارالانشا ریاست لوري ته ولاړ او له رحماني سره یې خبرې کولې چې ناڅاپه د جلیلي او عبدالقادر ځاځي وطندوست ترمنځ شخړه پیل شوه، خو ځینو وکیلانو دوی له یو بل لرې کړل او وروسته د جرگې رییس د رامنځته شوي جنجال له امله ناسته ختمه اعلان کړه.

## هغو ولایتونو ته پوښتنلیکونه استول شوي، چې بایومټریک دستگاوې پکې ورکړې دي



۲ مخ

پوهنتون

۴ مخ

## بېنوا د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د بېنوا د لوړو زده کړو خصوصي موسسې اداره وایي، د لوړو زده کړو وزارت لخوا د خصوصي او دولتي پوهنتونونو ترمنځ د مور او میرې چلند یې د پرمختگ مخه ډب کړې ده.



## عامو افغانانو له پوهنې وزارت سره څه باندې ٦۰۰ میلیونه افغانۍ مرسته کړې ده

د پوهنې وزارت وایي، د روان لمریز کال په اوږدو کې عامو افغانانو له پوهنې وزارت سره څه باندې ٦۰۰ میلیونه افغانۍ مرسته کړې ده. د یاد وزارت لخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې دا مرسته په ۲۰ ولایتونو کې عامو افغانانو په بېلابېلو برخو او په ځانگړې توگه د ځمکې د ورکړې په برخه کې کړې ده. سرچینې زیاته کړې، دا مرستې په خوست، دایکندې، کاپیسا، میدان وردگو، سرپل، بامیانو، پنجشېر، سمنگانو، بادغیس، کندهار، بلخ، نیمروز، کابل، هلمند، جوزجان، لوگر، هرات، پکتیکا او پکتیا ولایتونو کې شوې ده.

په خبرپاڼه کې راغلي، دغه مرستې چې د څه باندې ۳۷۰ جریبه ځمکې ورکړه، د ښوونځیو بیارغونه، د درسي لوازمو ورکړه او نغدي پیسې په کې شاملې دي، د ښوونځیو د شوراگانو لخوا راټولې شوې دي. د پوهنې وزارت ویلي، یادې مرستې د ښوونځیو له شوراگانو سره په همغږۍ، د پوهنې د مینه والو لخوا په شفاف ډول لگول شوې دي.

## سکات میلر: تا زمان رسیدن به توافق صلح، جنگ در برابر طالبان ادامه می‌یابد



جنرال سکات میلر، قوماندان مأموریت حمایت قاطع در افغانستان می گوید که ایالات متحده تا هنگامی به جنگ در برابر طالبان در افغانستان ادامه خواهد داد، تا به گفتۀ او یک توافق صلح با این گروه بدست آید.

آقای میلر که در یک نشست خبری پس از پایان نشست وزیران دفاع ناتو در بروکسل سخن می‌زد، تأکید کرد که بسیاری‌ها در افغانستان صلح می‌خواهند.

او در این باره افزود: «نخست، تعهد کشورها و همکاران ناتو به مأموریت جاری پشتیبانی قاطع بود. دربارۀ روند صلح نیز بحث‌های بسیاری را شنیدم؛ هر کسی که مرا می‌شناسد و در افغانستان با من سخن می گوید، می گوید که صلح، خواست مردم افغانستان است».

سکات میلر، در بخش دیگر از سخنانش افزود که داعش برای افغانستان و جهان خطرناک است و نیز میان داعش در خاور میانه و داعش در افغانستان پیوندهایی وجود دارند.

در همین حال، اسدالله خالد، سرپرست وزارت دفاع ملی افغانستان نیز که در این نشست خبری حضور داشت، در پاسخ به پرسشی که چه کسانی از داعش پشتیبانی می کنند، گفت که این پرسش پیچیده‌یی است.

آقای خالد، همچنان دربارۀ صلح با گروۀ طالبان نیز گفت که بی برقراری آتش‌بس، هیچ توافقی با این گروه ممکن نیست.

همزمان با این، نیکلاس کی، نمایندۀ ملکی ناتو در افغانستان نیز می گوید که برای گفت‌وگوها با طالبان به یک طرح واحد صلح نیاز است نه به گفتۀ او، چندین طرح.


Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریـځ

### د مسکو غونډه او په چین کې پر بین الافغاني غونډه یې اغېز

په مسکو کې د افغان سولې په تړاو له څلور اړخیزې غونډې وروسته، په چین کې کېدونکې بین الافغاني غونډه ځنډېدلې ده. ټاکل شوې وه چې د اکتوبر په ۲۸مه په چین کې بین الافغاني غونډه وشي. دې غونډې ته د ملا برادر په مشرۍ طالب پلاوی له قطر څخه ورتلو او له کابل څخه هم ۲۵ سیاستوالو په دې غونډه کې ګډون کاوه. دا غونډه له هغه وروسته وځنډېدله، چې په مسکو کې د روسیې، چین، امریکا او پاکستان استازو غونډه وکړه.

اوس پوښتنه دا ده چې ولې د مسکو غونډه د دې سبب شوه چې په چین کې بین الافغاني غونډه وځنډېږي؟

د چین په غونډه کې د افغان دولت د استازو د ګډون غوښتنه شوې وه، خو حکومت ټینګار کاوه چې دا غونډه دې د ټاکنو د پایلو تر اعلان پورې وځنډول شي. له همدې امله دا غونډه د حکومتي پلاوي له ګډون پرته کېدله او ۲۵ افغان سیاستوال دې غونډې ته ورتلل. د افغان حکومت ګډون کولی شوی، چې دا غونډه لا زیاته اغېزمنه کړي، د دې لپاره هڅې هم وشوې، خو بریالۍ نه وې. کله چې په مسکو کې څلور اړخیزه غونډه وشوه، ښکېلو لورو د نورو مسایلو تر څنګ، پر دې هم توافق وکړ چې طالبان دې له افغان حکومت سره خبرو ته کېني. له همدې امله له چین څخه وغوښتل شول چې دا غونډه وځنډوي. د دې غونډې لپاره به دوه کارونه کېږي او له هغه وروسته به غونډه کېږي. لومړی به افغان حکومت یا قانع کېږي او یا به هم اړ کېږي چې د چین غونډې ته خپل استازي ولېږي. دویم، طالبان به مجبورېږي او یا به قانع کېږي چې د حکومت پلاوی ومني او ورسره خبرې وکړي. که څه هم دا تر اوسه هم ناشونې ښکاري چې طالبان به دې مخامخ له افغان حکومت سره کښېني، خو د پلاوي پر څرنګوالي او د ګډون پر څرنګوالي اختلاف دی. د توافق لپاره په دې چاره کې به یو څه طالبان له خپل دریځ څخه په شا کېږي او یو څه به هم حکومت له خپلو شرطونو تېرېږي. په دې ډول به د دولت باصلاحیته او لوړ پوړي استازي د هغه ټیم برخه وي، چې چین ته ورځي او هلته له طالبانو سره خبرې کوي. د همدې موخې لپاره د چین بین الافغاني ناسته ځنډول شوې ده او کله چې دا دوه کارونه وشي، نو دا غونډه به کېږي.

اوس دا چې دا دوه کارونه څومره وخت نیسي او غونډه به کله کېږي، پوره معلومه نه ده، خو د دې لپاره به بېړه کېږي. که څه هم حکومت تمایل لري چې دا غونډه د ټاکنو د پایلو له اعلان وروسته وشي، خو دا غوښتنه به نه منل کېږي، ځکه داسې معلومېږي چې د ټاکنو وروستۍ پایلې به په ځنډ معلومیږي او بیا دا هم یقیني ښکاري چې ټاکنې دویم پړاو ته ځي. په دې ډول د ټاکنو د وروستیو پایلو اعلان چې پر اساس به یې نوی ولسمشر کار پیلوي، ښایي تر اتو – لسو میاشتو پورې وخت واخلي او دا ځنډ هېڅ لوري ته د منلو نه دی. له همدې امله به د سولې خبرې ژر پیلیږي، خو له هغه وړاندې ځینې بدلونونه حتمي دي.

# د امریکا- طالبانو خبرې او په نړیواله سطحه د سولې هڅو ته کتنه

لیکوال: احمدشاه راشد- د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز څېړونکی

**لومړۍ برخه**

د افغانستان جګړه د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږده جګړه ده چې امریکا پهکې ښکېل ده او د اکتوبر په اوومه نېټه یې اتلس کاله پوره شول. همدارنګه د یادولو وړ ده چې افغانان هم له تېرو ۴۰ کلونو راهیسې په اوږدو کورنیو جګړو کې ښکېل دي. له ۱۳۵۸ لمریز کال راهیسې افغانان د کورنیو جګړو شاهدان دي. څلویښت کاله یاني تقریباً یو نسل مخکې د افغانستان جګړه پیل او تر ننه پورې ادامه لري. که چېرې د نړۍ د تېرو سلو کلونو تاریخ ته وګورو؛ د نړۍ په تاریخ کې به د افغانستان جګړه تر ټولو اوږده جګړه وي چې اوس هم دوام لري. په اتیایمو لسیزو کې د وخت ابر قدرت افغانستان ته راغی. تر هغه وخته یې دلته جګړه وکړه چې کله په خپلو کې ووېشل شو. د یوویشتمې پېړۍ په لومړۍ لسیزه کې د نړۍ د یو قطب سرلاري افغانستان ته راغلل چې له اتلس کاله جګړې وروسته، نړۍ څو قطبه حالت ته ننوته او په افغانستان کې دا بدمرغه جګړه د دوی په لاس اوس هم دوام لري، چې پایله یې یوازې د عامو افغانانو وژل دي.

**د اروپايي ټولنې او امریکا خبرو ته کتنه**

د ۲۰۱۹ ز کال د اکتوبر په ۲۲مه، د افغانستان لپاره د امریکا متحده ایالتونو، ملګرو ملتونو، اروپایي ټولنې، برېټانیا، جرمني، ایټالیا، فرانسې او ناروې ځانګړو استازو د اروپايي ټولنې په مرکز بروکسل کې په افغانستان کې دایمي سولې ته د رسېدو په پار ناسته وکړه.

د دې ناستې په پای کې ۱۷ ماده یې پرېکړه لیک خپور شو، د دې پرېکړه لیک له اساسي مادو څخه یوه ماده دا وه، چې د افغانستان اوسني وضعیت ته په کتو، تلپاتې سولې ته د رسېدو یوازینی لار د بین الافغاني خبرو اترو پیل دی.

دوی د بین الافغاني خبرو د شروع پر مهال، له ټولو خواوو څخه د اوربند غوښتنه کړې چې له مخې یې د ناستې ګډونوال د افغانستان د راتلونکي لپاره د یوې سیاسي لار چارې د جوړولو نقشې ته ورسېږي.

دوی دا هم ویلي چې د سولې د داسې ټولیز او پایښتي تړون لپاره له افغان حکومت، طالبانو او نورو افغان سیاستوالو او د مدني ټولنو له مشرانو سره ګډ کار ته ژمن دي، چې په پایله کې جګړه ور سره پای ته ورسېږي او دا وضعیت د افغانانو، د سیمې د ثبات او نړیوال امنیت په ګټه وي.

د ناستې ګډونوالو پر افغان ولسمشر محمد اشرف غني او اجرایه رییس عبدالله عبدالله او نورو مخکښو افغان مشرانو غږ کړی، چې د افغانانو خپلمنځي رسمي خبرو لپاره د ټول اړخیزې ملي مرکچي ډلې پر جوړولو سملاسي تمرکز وکړي.

**د امریکا او طالبانو خبرو ته کتنه**

د ۲۰۱۸ ز کال د سپټمبر په څلورمه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت رسماً اعلان وکړ، چې په افغانستان او عراق کې د امریکا پخوانی سفیر یې د افغان سولې لپاره خپل استازی ټاکلی. زلمی خلیلزاد هغه سیاسي څېره ده، چې له تېرو څلورو لسیزو راهیسې یې د افغانستان او امریکا په اړیکو کې رول لوبولی دی. تر اوسه د امریکایي ډیپلوماتانو او طالب استازو ترمنځ د خبرو نهه پړاوونه تېر شوي؛ اته ناستې د قطر په دوحه او یوه د متحده عربي اماراتو په ابوظبۍ ښار کې شوې ده.

**لومړی پړاو:** د دواړو اړخونو ترمنځ خبرې لومړی ځل د ۲۰۱۸ ز کال د اکتوبر په ۱۲مه، د قطر په دوحه کې پیل شوې. په دې پړاو کې امریکایي پلاوي او طالب استازو تر ډېره ابتدايي بحثونه وکړل او پر بنسټیزو موضوعاتو ژور بحثونه ونشول؛ خو په ټوله کې د دغې لړۍ پر دوام د دواړو لورو لخوا هوکړه وشوه.

**دویم پړاو:** دویم پړاو خبرې د ۲۰۱۸ ز کال د نومبر په ۱۶مه بیا د قطر په کوربتوب په دوحه کې وشوې. دا غونډه د لومړنۍ په پرتله اوږده وه. په دغو درې ورځنیو خبرو اترو کې که څه هم دواړو لورو پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې وکړې، خو زلمي خلیلزاد له قطر څخه کابل تر راستنېدو وروسته، رسنیو ته وویل چې په افغانستان کې د سولې لپاره د افغان حکومت او طالبانو په ګډون، له ټولو ښکېلو لورو سره پر خبرو بوخت دی او که څه هم د کوم مهم پرمختګ اعلان نه شي کولی؛ خو له طالبانو سره د سولې یوې هوکړې ته د رسېدو لپاره هیلهمن دی. طالبانو هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل، چې د دوی یوه جګپوړي پلاوي د امریکا د متحده ایالاتو له یوه جګپوړي پلاوي سره درې ورځنۍ خبرې اترې کړې دي؛ خو دا خبرې ابتدايي وې او تر اوسه پر هېڅ کومه مسئله د دوی ترمنځ توافق نه دی شوی. طالبانو په خپله اعلامیه کې هغه اوازې هم رد کړې وې، چې د دغو خبرو اترو په جریان کې د لنډمهالي حکومت او یا هم راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو په اړه د ځینو رسنیو لخوا خپرې شوې وې.

**درېیم پړاو:** د ۲۰۱۸ ز کال د ډسمبر په ۱۷مه، درېیم پړاو خبرې د متحده عربي اماراتو په ابوظبۍ ښار کې تر سره شوې. د خبرو اترو په دې لړۍ کې بدلون تر سترګو شو. له یوې خوا دا غونډه په متحده عربي اماراتو کې د سعودي عربستان، پاکستان او متحده عربي اماراتو د استازو په ګډون جوړه شوه او له بلې خوا د افغان حکومت د سولې مرکچي پلاوی هم متحده عربي اماراتو ته ولاړ؛ خو طالبانو له هغوی سره له خبرو اترو ډډه وکړه. دا چې افغان حکومت ولې په دومره بېړه باندې د خبرو مرکچي پلاوی جوړ کړ او د مخامخ خبرو اترو لپاره یې متحده عربي اماراتو ته واستولو، هغه څه دي چې تر اوسه نه دي واضح شوي؛ خو یو شی چې دوی یې یقیني کړي وو، چې طالبان به له دوی سره د خبرو مېز ته کېني، هغه د زلمي خلیلزاد له لوري دوی ته ورکړل شوی ډاډ و، ولې هغسې ونشول. په دې دوه ورځنۍ غونډه کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو، د بهرنیو ځواکونو پر بمباریو او له زندانونو څخه د طالب بندیانو پر خلاصون خبرې وشوې. که څه هم د امریکایي لوري د پلان له مخې، ټاکل شوې وه چې په دې غونډه کې پر اوربند، د افغانستان له حکومت سره پر مخامخ خبرو اترو، لنډمهالي حکومت، ټاکنو او نورو مسائلو هم خبرې وشي؛ خو د طالبانو مرکچي ډلې پر دغو موضوعاتو له خبرو کولو ډډه وکړه او د اعلامیې په خپرولو سره یې یادونه وکړه، چې د افغانستان د ټولو ستونزو سبب د امریکایانو شتون دی. دوی ویل، تر څو پورې چې په دې اړه باندې موږ له امریکایانو سره هوکړې ته نه یو رسېدلي، موږ پر کورنیو موضوعاتو باندې له هېڅ لوري سره خبرو ته حاضر نه یو.

**څلورم پړاو:** د ۲۰۱۹ ز کال په جنورۍ میاشت کې څلورم پړاو خبرې د قطر په دوحه کې وشوې. د کتنو دا لړۍ د لنډ وخت لپاره د بېباوریو ښکار شوه او د دغو خبرو اترو د دوام په اړه یې اندېښنې پیدا کړې. طالبانو له درېیمې غونډې کابو یوه میاشت وروسته په یوه اعلامیه کې امریکایي لوری تورن کړ، چې په افغانستان کې د سولې راتلو ته ژمن نه دی. دوی د سولې په نوم خپلې کومې موخې چې لري، هغه تعقیبوي. د دغې اعلامیې په یوه برخه کې راغلي وو: «په افغانستان کې د اشغال مسئله زموږ د خپلواکي غوښتونکي مسلمان ملت مسئله ده، څرنګه او چېرې یې چې حل کول غواړو، دا زموږ حق دی... دا مسئله د چا په فشار او تاکتیکي برخوردونو نه حل کیږي او نه هم دا د منلو وړ دي». په خبرو اترو کې دا بېباورۍ هغه وخت راپورته شوې، کله چې امریکایانو غوښتل دا ځل له طالبانو سره په سعودي عربستان کې وګوري، خو د طالبانو سیاسي دفتر نه غوښتل چې له امریکایانو سره په سعودي کې وګوري. نو له همدې امله خبرې یو څه وځنډېدې او له یو څه ځنډ وروسته بیا ځل په قطر کې پیل شوې. دا ځل خبرې د تېرو ټولو لیدنو په پرتله اوږدې شوې چې کابو یوه اونۍ پرلهپسې بحثونه وشول او دواړه لوري د خبرو اترو له پرمختګونو خوښ وو او د پرمختګ خبره یې کوله.

د دې پړاو خبرو په پای کې طالبانو په خپله اعلامیه کې زیاته کړې وه، تر هغه وخته چې د امریکایانو پر وتلو بشپړ توافق نه وي شوی، پر بل څه باندې له امریکایانو او افغان حکومت سره هېڅ خبرې هم نه کوي؛ خو په دې غونډه کې پر اوږدمهاله اوربند او بین الافغاني خبرو هم بحث شوی و. زلمي خلیلزاد پر خپله ټوېټرپاڼه ولیکل، تر هغه وخته پورې چې بشپړ توافق نه وي شوی، تر هغه وخته پورې موږ څه نشو په ډاګه کولای. نو له همدې امله له څلورم پړاو خبرو وروسته، د افغان حکومت اندېښنې زیاتې شوې، ځکه له یوې خوا په متحده عربي اماراتو کې د څلورمې غونډې پر مهال، طالب پلاوي د افغان حکومت له پلاوي سره ونه کتل او له بلې خوا د سعودي عربستان غونډه هم د طالبانو له لوري رد شوه.

**پنځم پړاو:** د پنځم ځل لپاره طالب او امریکایي استازي د روان ۲۰۱۹ ز کال د فبرورۍ په ۲۵مه، په دوحه کې سره جرګه شول. زلمي خلیلزاد په لومړي ځل د طالبانو د تحریک له مرستیال ملا عبدالغني برادر سره په دوحه کې وکتل او د دې پړاو خبرې ۱۶ ورځو ته وغځېدې.

د دغه پړاو د خبرو اترو اجنډا بیا هم له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل او امریکایانو ته په راتلونکي کې له افغانستانه د ګواښ نه متوجه کېدو په تړاو د ډاډ ورکولو قضیې وې. که څه هم د ځینو راپورونو له مخې، په دې پړاو خبرو اترو کې د دغو دوو موضوعاتو تر څنګ، پر نورو موضوعاتو هم خبرې وشوې؛ خو طالبانو بیا هم په خپله اعلامیه کې رد کړې وه چې ګواکې دوی دې پر نورو موضوعاتو هم خبرې کړې وي. په دې پړاو خبرو اترو کې چې ډېرې اوږدې شوې، د طالبانو د سیاسي دفتر مشر ملا عبدالغني برادر شتون او پر اساسي موضوعاتو باندې د عملي خبرو پیل و. په دې ناسته کې نظر تېرو ناستو ته دې ډېر پرمختګ خبره هم شوې وه.

**شپږم پړاو:** شپږم پړاو خبرې د روان ۲۰۱۹ ز کال د مې میاشتې په لومړۍ نېټه، په قطر کې د طالب استازو او امریکایي چارواکو تر منځ پیل شوې، چې نهه ورځې یې دوام وکړ او د مې میاشتې په نهمه نېټه پای ته ورسېدې.

دا خبرې داسې مهال پیلېږي، چې په کابل کې د سولې مشورتي لویه جرګه کې راټول شوي شاوخوا ۳۲۰۰ کسان له طالبانو سره د سولې په تړاو سلامشورې کوي، چې څنګه کولی شي جګړه ختمه او سوله راشي.

په دې پړاو خبرو کې پر څلورو موضوعاتو (د بهرنیو ځواکونو وتل، د امریکا پر ضد د افغان خاورې نه استعمال، اوربند او له افغان حکومت سره خبرې) باندې تفصیلي بحث شوی و. دواړو لوریو د پرمختګ خبره کوله، خو کومې مهمې هوکړې ته سره نه وو رسېدلي. د دواړو لوریو په اند، په دې خبرو کې تر ډېره پر دوو موضوعاتو باندې بحث وشو، چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالوېش او د نورو هېوادونو پر ضد د افغانستان د خاورې نه کارېدل وو.

**اووم پړاو:** اووم پړاو خبرې د روان ۲۰۱۹ ز کال د جون میاشتې په ۳۰مه په دوحه کې پیل شوې او څو ورځې یې دوام وکړ. په دغه پړاو خبرو کې دواړو خواوو د زیات پرمختګ خبره کوله، د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد، له رسنیو سره په خبرو کې وویل چې د خبرو په دې پړاو کې د بل هر وخت په پرتله ډېر پرمختګ شوی دی. ښاغلي خلیلزاد په یوه ټوېټري پیغام کې ویلي وو، د تېرو شپږو ورځو په خبرو کې د سولې هوکړې پر ټولو څلورو اړخونو، له ترهګرۍ سره مبارزه، د بهرنیو پوځیانو وتل، په بین الافغاني خبرو کې ګډون او د تل پاتې هر اړخیز اوربند په ګډون، خورا د پام وړ پرمختګ شوی دی.

اووم پړاو خبرو دوام درلود چې د افغان سیاسیونو او طالب استازو ګډه غونډه، په قطر کې د قطر او جرمني هېواد په همکارۍ ترتیب شوې وه. په دې ناسته کې د طالبانو د ګډون په پار، اووم پړاو خبرې د امریکا او طالبانو ترمنځ د لنډې مودې لپاره ودرېدې. د افغان سیاسیونو او طالب استازو خپلمنځي غونډه، دا دویمه غونډه وه چې افغان سیاسیون او طالب استازي پهکې سره راټولېدل. دواړو لوریو د افغان کشالې د حل په موخه خپل نظرونه له یو بل سره شریک کړل. د غونډې د ګډونوالو په اند، دواړو لوریو پر ډېرې موضوعاتو باندې توافقي نظر درلود او دواړو لوریو د داسې غونډو د جوړېدو غوښتنه درلوده، څو وکولای شي چې د دې ناستو په لړ کې ډېرې هغه موضوعات چې تر اوسه پرې بحث نه دی شوی، بحث پرې وکړي او په پایله کې رغنده بین الافغاني خبرو ته سره کېني او د افغان کشالې لپاره خپله افغانان حل پیدا کړي.

**اتم پړاو:** اتم پړاو خبرې د روان میلادي کال د اګسټ په درېیمه پیل شوې. له نهو ورځو خبرو وروسته، د اګسټ په ۱۲مه دا خبرې پای ته ورسېدې. دواړو لوریو وویل چې پر ډېرو مادو بحث پای ته رسېدلی او تړون ته سره ډېر نږدې شوي. طالب ویاند سهیل شاهین او امریکایي استازي زلمي خلیلزاد دواړو پر خپل ټوېټر د مثبتو خبرو یادونه کوله. طالبانو وویل، له امریکا سره له تړون وروسته به له افغان لوري سره بین الافغاني خبرې پیلوي. داسې انګېرل کېده چې د دغو خبرو کوربه به کوم اروپایي هېواد وي. په پیل کې ناروې هېواد ویلي وو چې دوی به په پلازمېنه اوسلو کې د افغان حکومت له لوري د ټاکل شوي پلاوي او طالبانو کوربه وي. خو بیا هم د ځینو تخنیکي کارونو د تر سراوي په موخه، نهم پړاو خبرې هم تر سره شوې.

**نهم پړاو:** نهم پړاو خبرې د روان ۲۰۱۹ ز کال په اوږدو کې په دوحه کې د اګسټ په ۲۲مه پیل شوې او د سپټمبر تر لومړۍ یې دوام وکړ. په دې پړاو خبرو کې امریکایان او طالبان په خپلو کې یوې خپلمنځې هوکړې ته سره رسېدلي وو. زلمي خلیلزاد وویل، که د امریکایانو او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه په سمه توګه پلې شوه او شرایط سم وو، په افغانستان کې مېشت امریکایي پوځیان به د ۱۳۵ ورځو په ترڅ کې له پنځو پوځي اډو ووځي. کله چې د نهم پړاو خبرو په پایله کې طالبان او امریکایي لوری توافق ته سره ورسېدل، پلان دا و چې لاسلیک به د امریکا له لوري د بهرنیو چارو وزیر کوي او د دې توافق د پلي کېدو ضمانت به چین، روسیه او ځینې نور قوي هېوادونه کوي او په دې سره دواړه لوري توافق ته سره رسېدلي وو، خو ټرمپ غوښتل چې لاسلیک په امریکا کې په کمپ ډېوېډ کې چې هلته به افغان ولسمشر محمد اشرف غني او د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر غړي برخه ولري، کیږي.

**دوام لري...**

# د قومي انډول په پام کې له نیولو پرته د حکومت ناقانونه ګومارنې!

لیکنه: الیاس رسولي

د ولسمشرۍ ماڼۍ د عامه او ستراتېژیکو اړیکو اداري تازه ډېر نوي کسان مقرر کړي، خو پوښتنه دا ده چې یاد کسان د کومو معیارونو، ازموینې او مشخصاتو پر اساس ګومارل شوي او ولې یې په تشکیل کې قومي انډول هېڅ په پام کې نه دی نیول شوی؟

دغه راز د سولې په چارو کې د دولت وزارت په ټول تشکیل کې بیا یو پښتون نشته. پښتو رسنۍ پر خپله ژبه د سولې د جزیاتو تر لاسه کولو حق لري، خو د سولې په چارو کې د دولت وزارت پښتون ویاند څېرته دی؟

په داسې حال کې چې د ملي یووالي حکومت په وروستیو کاري ورځو کې دی. د قانون پر اساس، دغه مهال ټولیزې ګومارنې نه شي کېدای، خو وروستۍ مقررۍ په کوم قانوني اصل کېږي؟

هغه نوملړ چې په ټولنیزو رسنیو کې په حکومت کې د تازه مقرریو په اړه خپرېږي، پکې لېدل کېږي چې د ولسمشرۍ ماڼۍ د عامه او ستراتېژیکو اړیکو اداري تازه د ۱۱ کسانو د مقررۍ په اړه وضاحت ورکړی، خو د حکومت د رسنیو او ستراتېژیکو اړیکو په دفتر کې له دېرشو زیات کسان په نویو څوکیو وګومارل شول. دغه کسان ډېری یې په مافوق رتبه، فوق رتبه، لومړي بست، دویم بست او درېیم بست ګومارل شوي، چې له درېیم بست پورته ټول د ولسمشر په لاسلیک مقررېږي. پوښتنه دا ده چې دوی د کومې پروسې، کومو معیارونو او کومو مشخصاتو پر اساس وګومارل شول؟

د وحید عمر په دفتر کې د ۱۱ تازه مقرر شویو کسانو په منځ کې یوازې دوه کسان پښتانه دي او نور د نورو قومونو دي. مقرر شوي پښتانه هم د یاد دفتر د بستونو د مهم والي پر اساس، په ټیټه کچه کې دي. اوس پوښتنه دا ده چې د حکومت په مقرریو کې قومي انډول همدې ته وایي؟!

پر دې سربېره، په دولت کې د نویو مقرریو په اړه زمونږ شننه ښيي چې په ډېری نورو وزارتونو کې هم یو قوم قرباني شوی دی. د ولسمشرۍ ماڼۍ په چوکاټ کې د نویو مقرریو یوه بله بېلګه د سولې په چارو کې د دولت وزارت دی.

د رسنیو لوی شکایت دا دی چې د سولې په چارو کې د دولت وزارت د سولې د جزیاتو په اړه د رسنیو پښتو پوښتنو ته پر خپله ژبه ځواب نه شي ورکولی. په داسې حال کې چې د سولې خبرې روانې دي او رسنۍ ان د ورځې څو ځله د سولې د جزیاتو تر لاسه کولو ته اړتیا لري، خو پښتو رسنۍ پر خپله ژبه ځواب نه تر لاسه کوي. د یاد وزارت له ادرسه، یوازې یوه مېرمن چې هغه هم دري ژبې ده، ټولو پوښتنو ته ځواب وایي او پښتو ژبه خو پکې صفر سلنه ده.

د سولې او جګړې لوی تصویر په پښتنو سیمو کې برجسته دی، خو د سولې جزیات او معلومات پر نورو ژبو دي. د سولې په چارو کې د دولت وزیر سلام رحیمي د هرات ولایت دی، دستیار او سلاکاران یې هم د همدې ولایت دي او په کارکوونکو کې یې تر اوسه هېڅ پښتون هم رسنیو ته نه دی ښکاره شوی. دغه وزارت اوس د سولې عالي شورا ډېری واکونه تر لاسه کړي او د هغې شورا ټول امتیازات هم ورته ورکړل شوي دي.

موږ هڅه وکړه چې د سولې په چارو کې د دولت وزارت او دغه راز په ټوله کې د حکومت په مهمو بنسټونو کې په نویو مقرریو کې د قومي ونډې احصایه تر لاسه کړو، خو مسوول ارګانونه په دې اړه ځواب ویلو ته حاضر نه شول.

د کار د قوانینو پر اساس، حکومت په وروستیو کاري ورځو کې ډله ییزې ګومارنې نه شي کولی، خو د ولسمشرۍ ماڼۍ اړوند یادو ادارو تازه درجن درجن کسان وګومارل او هغه هم له کومې مشخصې او قانوني پروسې پرته.

# د ټاکنو کمېسیون خپلمنځي اختلافات؛

## لا هم د لومړنیو پایلو د اعلان نېټه نه ده مشخصه شوې



د ټاکنو په کمېسیون کې د اختلافاتو له امله، د لومړنیو پایلو اعلان ځنډېدلی دی. د ټاکنو خپلواک کمېسیون له ژمنو سره سره، د لومړنیو پایلو د اعلان دقیقه نېټه لا هم نه ده معلومه او دغه کمېسیون بریالی نه شو چې خپلې ژمنې عملي کړي. ولسمشریزې ټاکنې د تلې په شپږمه نېټه تر سره شوې او ټاکل شوې وه چې پایلې یې د تلې میاشتې په ۲۷مه اعلان شي، خو د یادو ټاکنو پایلې تر ننه نه دي اعلان شوې. بلخوا ځارونکي بنسټونه او ټاکنیز ټیمونه د ټاکنو خپلواک کمېسیون پر دغه ځنډ او غیر قانوني کړنو نیوکې کوي.

سره له دې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د لومړنیو پایلو د اعلان کره نېټه نه ده په ډاګه کړې، خو داسې شک هم شته چې ښايي لومړنۍ پایلې ان دری اونۍ وځنډېږي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون غړی اورنګزیب وایي، د کمېسیون دارالانشا ورته وړاندیز کړی چې لومړنۍ پایلې دری اونۍ وروسته اعلان شي، خو دوی نه ده ورسره منلې. د اورنګزیب په خبره، دری اونۍ خورا ډېر وخت دی او باید پایلې ژر اعلانې کړل شي.

اورنګزیب پرون په خبري غونډه کې وویل چې نن (یکشنبه) ښايي د لومړنیو پایلو د اعلان لپاره نېټه مشخصه شي؛ خو دا چې کمېسیون به د یوې نېټې پر مشخصولو هوکړې ته ورسېږي که نه، لا معلومه نه ده.

اورنګزیب وایي: ((دارالانشا چې کوم مهالوېش موږ ته وړاندیز کړی و، په هغه کې یې دری اونۍ وخت په پام کې نیولی و. دا نو ډېر اوږد وخت و او د واقعیتونو پر بنسټ نه و جوړ شوی. موږ وویل چې دا وخت باید کم کړل شي. دا ډېر اوږد وخت دی)).

د مهالوېش له مخې، د تلې د شپږمې نېټې لومړنۍ پایلې باید د همدې میاشتې په اوه ویشتمه نېټه اعلان شوې وای، خو په بایومټریک الو کې د ستونزو، مرکزي سرور ته د معلوماتو په لېږد کې ستونزو او ځینو نورو خنډونو لومړنۍ پایلې وځنډولې. سره له دې هم کمېسیون هیله لري چې نن وکړی شي د لومړنیو پایلو د اعلان نېټه مشخصه کړي. د ټاکنو کمېسیون کمېشنر اورنګزیب دا هم وایي چې مرکزي سرور ته د رایو د لېږد لړۍ هم بشپړه شوې ده او ټول معلومات مرکزي سرور ته لېږدول شوي دي. له دې وروسته به د درملوګ کمپنۍ دغه رایې محاسبه کوي او پایلې به کمېسیون ته ورکوي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون دا هم وایي چې تر ۱،۹ میلیون ډېرو وګړو رایه ورکړې ده او دوی دغه رایې ټولې مرکزي سرور ته لېږدولې دي. بلخوا د ثبات او همپالنې ټاکنیزه ډله بیا وایي چې په ټاکنو کې د یو میلیون او ۷۹۵ زره رایې کارېدلې دي. د دوی په خبره، د کمېسیون له لوري اعلان شوې شمېرې ښايي سمې نه وي او دوی ته د حیرانتیا وړ دي.

بلخوا د دولت ساز ټاکنیز ټیم ناظرین بیا وایي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید ژر تر ژره لومړنۍ پایلې اعلان کړي. د دوی په خبره، د قانوني او منني وړ دلایلو له راوړلو پرته د ټاکنو د پایلو په اعلان کې ځنډ ورته د منلو نه دی او باید ژر تر ژره اعلان کړل شي.

تر دې وړاندې پر ټاکنو ځینو ځارونکو بنسټونو هم د پایلو په اعلان کې ځنډ راتلل غیر قانوني او د ستونزو زېږوونکی بللی و. دوی وایي، څومره چې پایلې ځنډېږي، ټاکنیزو ټیمونو ته موقع په لاس ورکوي چې نانډرۍ جوړې کړي او خلک پر ټاکنیزو کمېسیونونو بې باوره کړي. د ټاکنو د لومړنیو پایلو د اعلان ځنډ په داسې حال کې دی، چې ځینو هېوادونو لکه امریکا او اروپايي ټولنې د ټاکنو په اعلان کې ځنډ ته په ښه سترګه کتلي وو او په خبره یې شفافیت باید د سرعت قرباني نه شي.

# ایسپر: د داعش ځپلو کمپاین په دویم پړاو کې به د هغوی مالي سرچینې له منځه یوسو




د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر ویلي، د ناټو غړي هېوادونه د داعش ځپلو کمپاین لپاره یو موټی دي.

نوموړي دغه راز ویلي چې امریکا به په سوریه کې محدود حضور ولري او موخه به یې دا وي چې د داعش وسله وال د تېلو د تصفیې ځایونو ته لار پیدا نه کړي.

هغه زیاته کړې چې د داعش ځپلو کمپاین په دویم پړاو کې به تمرکز د هغوی د مالي سرچینو پر بندولو وي.

د امریکا دفاع وزیر ویلي چې د امریکا محدود حضور به پیاوړی کړي. هغه د بلجیم په پلازمېنه بروکسل کې په خبري غونډه کې په دې اړه د نورو جزیاتو له ورکولو ډډه کړې ده. نوموړي دغه راز ټینګار کړی چې په سوریه کې یې موخه د پخوا په څېر د داعش د ائتلاف ځپل دي.

نوموړي ویلي چې د تېلو د تصفیه ځایونو د کمولو موخه دا ده چې د داعش وسله وال د وګړو د جلب او جذب او د وسلو د اخیستلو لپاره مالي سرچینې تر لاسه نه کړي، ځکه د ده په خبره، په هغه صورت کې به د داعش ماتول ګران کار وي.

مارک ایسپر په سوریه کې د کُردانو په مشرۍ د ازادې سوریې له ځواکونو سره هم د تماسونو خبره کړې ده. هغه ویلي: «موږ له هغوی (د ازادې سوریې ځواکونو) سره اړیکې لرو، هغوی موږ ته ډاډ راکړی چې د هغوی په تر واک لاندې سیمو کې د داعش ټول زندانیان امن دي، دا ښه خبر دی، ما د ترکیې له دفاع وزیر سره هم خبرې کړې او هغه ډاډ راکړی چې د هغوی په سیمو کې هم د داعش زندانونه تر کنټرول لاندې دي، هغوی ځینې نور داعشیان هم راټول کړي چې ښه خبر دی».

د یادونې ده چې د امریکا دفاع وزیر په بروکسل کې د ناټو تړون د دفاع وزیرانو تر غونډې وروسته، خبریالانو ته دا معلومات ورکړي دي.

مارک ایسپر پر ترکیه هم غږ کړی چې له کړې ژمنې سره سم د سوریې په شمال کې بشري وضعیت ته پام وکړي، مذهبي او توکمي لږکیو ته امنیت ورکړي او د جنګي جرمونو ادعاوې وڅېړي.

دا په داسې حال کې ده چې د ترکیې حکومت د اکتوبر په نهمه، د سوریې په شمال کې د کُرد ځواکونو پر ضد پوځي عملیات پیل کړل، خو د امریکا دفاع وزیر ویلي چې د ترکیې دا عملیات د توجیه وړ نه دي.

# بېنوا د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي



بېنوا د لوړو زده کړو خصوصي موسسې په کندهار ولایت کې د هېواد د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ، په ۱۳۹۴ لمریز کال کې پر فعالیت پیل کړی دی. د دې موسسې د محصلینو د چارو مرستیال ښاغلی نادرشاه نصرت وایي، بېنوا د لوړو زده کړو خصوصي موسسه له هماغه اوله بیا تر دې دمه دوه پوهنځي (انجنیري او کمپیوټر ساینس) لري. دی وایي، دواړه پوهنځي دوه دوه ډیپارټمنټونه لري، چې کمپیوټر ساینس پوهنځی (سافټویر انجنیرېنګ او نېټورکېنګ) او انجنیري پوهنځی (سېول انجنیري او د برق انجنیري) ډیپارټمنټونه لري. دی وایي، څلور واړه ډیپارټمنټونه یې فعال دي او عملاً محصلین پکې پر زده کړو بوخت دي.

ښاغلی نصرت وایي، په دواړو پوهنځیو کې یې د محصلینو شمېر ۵۰۰ کسانو ته رسېږي، چې ښځینه محصلینې هم پکې شاملې دي. دی وایي، د سږ کال کانکور یې لا تر اوسه نه دی اخیستی، چې د دې کانکور په اخیستو سره به یې د محصلینو شمېر نور هم لوړ شي. نصرت وایي، په بېنوا د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ۳۵ په شاوخوا کې استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې د ماسترۍ او لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. د ښاغلي نصرت په خبره، د استادانو له ډلې یې ځینې دایمي او پاتې نور یې قراردادي استادان دي چې یوازې د تدریس لپاره راځي. نوموړی وایي، تر اوسه پورې ښځینه استادانې نه لري.

د بېنوا له لوړو زده کړو موسسې څخه تر اوسه پورې دوې دورې محصلین فارغ شوي، چې ښاغلي نصرت یې د شمېر په اړه څه ونه ویل. دی وایي، په کور د ننه له ځینو پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري چې ځینې کارونه د دغو پوهنتونونو له ادارو سره په همغږۍ مخ ته وړي. د لوړو زده کړو دغه موسسه د خپلو محصلینو لپاره یو مناسب کتابتون لري، چې د کتابونو شمېر یې د دریو زرو په شاوخوا کې دی. نادرشاه نصرت وایي، محصلین او استادان کولی شي چې وخت ناوخت له دې کتابتون څخه ګټه واخلي، مطالعه او څېړنه پکې وکړي. د نصرت په خبره، دواړه پوهنځي ځانګړې لابراتوارونه هم لري، چې محصلین کولی شي د نظري زده کړو تر څنګ، عملي زده کړې هم پکې وکړي.

بېنوا د لوړو زده کړو موسسه د ښځینه محصلینو لپاره د ټرانسپورټ امکانات او د پوهنتون په د ننه کې امنه اکاډمیکه فضا لري. د دې موسسې د محصلینو چارو مرستیال وایي، په ټوله کې یې د نارینه او ښځینه محصلینو لپاره د موسسې په د ننه کې د زده کړو ښه چاپېریال او خوندي اکاډمیکه فضا برابره کړې ده، چې تر څنګ یې د محصلینو لپاره تر یوې کچې پورې هغه امکانات هم برابر کړي، چې محصلین ورته اړتیا لري.

بېنوا د لوړو زده کړو موسسې په ټوله کې د محصلینو لپاره پنځوس سلنه تخفیف په پام کې نیولی دی. نادرشاه نصرت وایي، کله چې محصل د لومړي ځل لپاره د زده کړو په موخه، په دغه موسسه کې نوملیکنه کوي او زده کړې پیلوي، دوی ورته پنځوس سلنه تخفیف ورکوي. له هغه وروسته بیا په بېلابېلو دورو کې ممتازو محصلینو ته له دې ډېر تخفیف ورکول کېږي. دی وایي، د ښځینه محصلینو لپاره ځانګړی تخفیف لري، چې ان ځینې یې پر شپېته، اویا او اتیا سلنه تخفیف په بېنوا د لوړو زده کړو موسسه کې زده کړې کوي.

دا چې په ډېرۍ خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو کې هغه کسان زده کړې کوي، چې د ورځې په اوږدو کې نورې بوختیاوې ولري او یا هم غواړي د یوه پوهنځي تر څنګ بل پوهنځی هم ولولي، نو بېنوا د لوړو زده کړو موسسې هم د خپلو محصلینو غوښتنو ته په کتو، درسي وختونه برابر کړي دي. نادرشاه نصرت وایي، دوی د ورځې په اوږدو کې دوه وخته محصلین د زده کړو لپاره راغواړي، چې یو د سهار لخوا او بل هم له غرمې وروسته.

که څه هم چې بېنوا د لوړو زده کړو موسسې تر اوسه پورې دوې دورې فارغان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي، خو د محصلینو چارو مرستیال یې وایي، تر اوسه پورې یې ورته د فراغت سندونه نه دي ورکړي. نصرت وایي، د دویمې دورې فارغ شویو محصلینو تحصیلي اسنادونه یې لا پروسس شوي نه دي او هغه چې کارونه یې خلاص دي، لوړو زده کړو وزارت ورته په دې برخه کې یو څه ستونزې جوړوي. دی وایي، دغه ستونزه یې ان له ولسمشر سره شریکه کړې ده. نوموړی وایي، که څه هم چې تر یوې کچې پورې یې کار کوونکي له دې پروسې سره یو څه نابلده دي، خو تر څنګ یې لوړو زده کړو وزارت هم په دې برخه کې ور سره همکاري نه کوي او په ډېره عادي مسئله یې اسنادونه بېرته ور ردوي. دی وایي، هڅه به وکړي چې خپلو فارغ شویو محصلینو ته ژر تحصیلي اسنادونه وسپاري، څو له خپل دې حق څخه برخمن شي.

نادرشاه نصرت د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ د توپیر په اړه وایي، دا چې ټول پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې، د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي او یو ډول درسي نصاب لري، نو بیا یې تر منځ توپیر نه ویني. دی وایي، دا چې دغه څه په افغانستان کې یو څه نوي دي، نو د افغانستان عام خلک په دې اند دي چې دولتي پوهنتونونه تر خصوصي هغو غوره دي. نصرت وایي، دا چې خصوصي پوهنتونونه خلکو ته د پیسو په بدل کې زده کړې ورکوي، نو هڅه کوي چې تر ټولو ښه امکانات ورته برابر کړي او که امکانات ورته برابر نه کړي او د زده کړو کیفیت یې ښه نه وي، خپله محصلین هم اجازه نه ورکوي او غږ پورته کوي.

د بېنوا د لوړو زده کړو موسسې اداره وایي، راتلونکی پلان یې دا دی چې لومړی باید په موسسه کې د ودانیو شمېر زیات کړي، ځکه اوسنۍ ودانۍ یې له دې څخه د زیاتو پوهنځیو ظرفیت نه لري. د ښاغلي نصرت په خبره، کله یې چې دغه ستونزه حل کړه، له هغه وروسته به د نورو نویو پوهنځیو د تاسیس په اړه فکر کوي. نوموړی وایي، هڅه یې کړې ده چې د محصلینو لپاره د هغوی په خوښه د زده کړو زمینه برابره کړي او که د تدریس په چارو کې دوی له کوم استاد سره ستونزه ولري، د یوې اونۍ په اوږدو کې یې ستونزې ته رسیدګي کېږي او که د یوې اونۍ په اوږدو کې استاد په خپلو کړنو کې بدلون را نه ولي، نو هغه ده چې پر ځای یې بل استاد ور استول کېږي.

د دې موسسې اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ توپیر ونه کړي او ټولو ته په یوه سترګه وګوري. دی وایي، وزارت ډېر کله له خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو له موسسو سره د مور او میرې چلند کوي، چې په دې برخه کې یې ښه مثال د فارغ شویو محصلینو د تحصیلي اسنادونو پر وخت نه تاییدول دي، چې له کبله یې دوی د محصلینو له شکایتونو سره مخ کېږي او د کار په مارکېټ کې یې د پوهنتون او یا موسسې د بدنامۍ لامل کېږي. د بېنوا د لوړو زده کړو موسسې د محصلینو چارو مرستیال نادرشاه نصرت له لوړو زه کړو وزارت څخه غواړي، چې په دې برخه کې ور سره هر اړخیزه مرسته او همکاري وکړي.

---

## د کتاب خبري

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

لیکوال: ابوبکر صدیق


ژباړن: اقامحمد قریشي

دوهمه برخه

پاکستان

شپږم څپرکی

پښتونخوا د ترهګرۍ په لومه کې




مشرف او د هغه نظامي ملګرو هڅه کوله چې د طالبانو روان افراطیت ته د پښتنو د خپلواک غورځنګ رنګ ورکړي. له دې ډول هڅو سره پښتانه سیاستوال په غوسه شول. د نېشنل عوامي ګوند مشر، خان په ۲۰۰٦ز کال وویل: ((طالبان د پښتني ټولنې محصول نه دی، بلکې طالبان د پاکستاني پوځ له لوري جوړ کړل شوي دي.)) د دې ګوند سېکولر او ډیموکراټ موجودیت کولای شوای، د طالبانو بدیل شي، ځکه نو واشنګټن ته ور نږدې شو. له دې سره مشرف هم مجبور شو چې دې ګوند ته ځان نږدې کړي. د خټک په مرسته، د ګوند مشر اسفندیار ولي خان خپلې غوښتنې وړاندې کړې. په پېښور کې د امریکا متحدو ایالتونو قونسل، مایکل سپانګلر، له عوامي ګوند سره د ملاقات راپور کې داسې لیکلي وو: ((اسفندیار ولي خان به د مشرف د حکومت ملاتړ د دې درې کلیدي شرایطو له مخې وکړي؛ اول- په ولایتي کچه د روغتیا پیاوړتیا، د ځایي حکومتولۍ اصلاحات، د پوهنې او کرنې پرمختګ. دوهم- د شمال لوېدیځ سرحدي ولایت نوم دې پښتونخوا ته واړول شي. دریم- په فاټا کې د سیاسي پرمختګ پراخ اصلاحات، سناتور اسفندیار ولي خان ادعا کوي؛ د پاکستان د حکومت او نېشنل عوامي ګوند ملګرتیا کولای شي منځلارو سیاستوالو ته لاره اواره کړي چې د ۲۰۰۲ز کال په ټاکنو کې بریالي شوي اسلام پال او د امریکا ضد اسلام پالو افراطیانو د بدیل په توګه ځای ډک کړي. اسفندیار ولي خان ته دا چانس نه دی ورکړل شوی.)) د ۲۰۰۷ز کال په ډسمبر کې د پاکستان د پخوانۍ لومړۍ وزیرې بېنظیر بوټو له وژل کېدو سره د مشرف هغه پلان هم خراب شو چې غوښتل یې دا ځل د سېکولر ګوندونو په ائتلاف سره ځان واک ته ورسوي، ځکه هغه غوښتل واشنګټن ته وښیي چې د افراطیت پر ضد به د سېکولر ګوندونو ملاتړ کوي. په راتلونکو میاشتو کې یې په کور د ننه سیاسي مشروعیت له لاسه ورکړی و، د قانون پوهانو له لوري د هغه پر وړاندې د لاریونونو حرکتونه پیل شول. د ۲۰۰۷ز کال په نوومبر کې هغه خپل مرستیال، اشفاق پرویز کیاني ته د پوځ مشري ورکړه، له دې سره د هغه د پوځ قدرت ختم شو. د ۲۰۰۸ز کال د فبروري په پارلماني ټاکنو کې یې هغه نور له قدرت وویست. نېشنل عوامي ګوند لا هم د سولې، ولسواکۍ او پرمختیا لپاره کمپاینونه کول. د خیبر پښتونخوا د ولایتي اسمبلۍ په ټاکنو کې یې نیمې څوکۍ وګټلې. دې ګوند ډېر ژر په پېښور او اسلاماباد کې د پاکستان د خلکو له ګوند سره ګډ حکومت جوړ کړ، خو د پېښور شمال ته د ملکنډ غرنۍ سیمه لا همداسې پاتې وه.

**له جنته د دوزخ پر لور**

سوات د ملکنډ له اوو ولسوالیو څخه یوه ده. نېشنل عوامي ګوند په سوات کې د ولایتي اسمبلۍ له اتو څوکیو اووه وګټلې. د دې ګوند مشر، خان له ټاکنو وړلو وروسته وویل: ((په پښتونخوا کې موږ د ښوونځي لباس خوښوو، خو د ځانمرګي له واسکټ څخه کرکه کوو.)) افراسیاب خټک ډېر معقول خوب ویلی دی. هغه اندېښنه لرله چې نوی حکومت په یوازې ځان له افراطیانو سره جګړه نشي کولی، نوموړي زیاته کړه: ((په شمال لوېدیځ سرحدي ولایت کې ترهګري د پاکستان د نظامي دولت یوه برخه ده. همدا افراطیت دی چې ټوله ناامني یې زېږولې ده، که په اسلاماباد کې د دې افراطیت ریښې وخېژي، بیا ټول ملت ورسره هوسا کېدلای شي.))

کله چې د ۲۰۰۸ز کال په اپرېل کې ولایتي حکومت مسئولیت واخیست، سوات په ټولیزه توګه د طالبانو تر کنټرول لاندې و. له ۲۰۰۷ز کال نظامي عملیاتو وروسته، یاغیان بیا ځواکمن شوي وو. د پولیسو پوستې ټولې د طالبانو له لوري نیول شوې وې، پولیس هېڅ نه ښکارېدل، ټول له خپلو پوستو وتلي وو، د ملکي ادارو کارونه هم په ټپه ولاړ وو. طالبانو د اسلامي شریعت د پلي کېدو پر وړاندې هېڅ خنډ نه پرېښود. په سوات کې د طالبانو یو نظامي قومندان، استاد فاتح، د القاعدې الصباح رسنۍ ته ویلي وو: ((موږ د خپلو په مخکې هېڅ لوی او وړوکی خنډ نه پرېږدو، هغه که د دولت ملاتړی او یا هم مخالف وي.)) هغه خنډونه، د دولت اداري، امنیتي پرسونل، پولیس، سرحدي ځواکونه، د استخباراتو مامورین او سیاسي مشران وو. د نېشنل عوامي ګوند مشران پوهېدل چې حالات سم نه وو. په جګړه کې په سلګونو کسان وژل شوي او په زرګونو نور متضرر شوي وو. د ۲۰۰۸ز کال په مې کې ګوند بله هېڅ لار نه لرله، په پای کې یې له طالبانو سره د سولې تړون لاسلیک کړ. د تړون له مخې طالبانو ژمنه کړې وه که په سوات کې حکومت له شریعت سره ستونزه نه لري، کولای شي چې دې ولسوالۍ ته راشي، خو څو میاشتې وروسته دا تړون ناکام شو. څېړونکي وایي چې طالبان هغه مهال چمتو وو چې له سیمې ووځي، خو ډېر ژر جګړه پیل شوه، په سلګونو وګړي په هدفي وژنو، ځانمرګو بریدونو او نظامي چاپو کې ووژل شول.

دا ښکلې او زرغونه سیمه چې په ۱۹٦۰ز لسیزه کې د ملکې الیزابېت د راتګ پر مهال هغې ورته د اسیا د سویټزرلېنډ نوم ورکړی و، دا مهال د جګړې په اور کې سوزېده. دلته تر ډېره یوسفزي پښتانه اوسېږي، دا ځای په شلمه پېړۍ کې د راج تر کنټرول لاندې و. سوات هغه مهال هم تر شاوخوا سیمو پرمختللی او اسوده و. په دې سیمه کې ښوونځي، کالجونه او سړکونه جوړ شوي وو. د ډېرو سواتیانو هغه پخوانۍ حالت یادېږي، ځکه له اوسنۍ ناغېزمنې بیروکراسۍ څخه نهیلي دي.

**دوام لري...**

همیانی

# افسردگی بعد از جدایی؛ علائم، راه‌های تشخیص و درمان آن

ترجمه: احمد فردوسی

پایان یک رابطه عاطفی می‌تواند تأثیری جدی بر سلامت روان و روح شما داشته باشد. جدایی نه تنها می‌تواند منجر به تغییرات اساسی در وضعیت مالی و زندگی شود، بلکه ممکن است آشفتگی روحی عظیمی نیز برجا بگذارد. بعضی از جدایی‌ها آسان‌تر از بقیه هستند. شاید بتوانید زود فراموش کنید و به راه خود ادامه دهید. در بعضی از موارد، ممکن است احساس خشم، ناراحتی روحی، کینه‌جویی، اضطراب و دل‌شکستگی کنید. شاید بعد از پایان یک رابطه عاشقانه، بروز همه این احساسات عادی باشد. اما اگر این احساسات در طول زمان ادامه پیدا کنند، ممکن است نشانه اتفاق جدی‌تری باشند و در بعضی موارد منجر به بروز نوعی از افسردگی شوند. در این مطلب علائم، راه های تشخیص و درمان این نوع از افسردگی را بررسی می کنیم. همراه ما باشید.

رویدادهای ناراحت‌کننده در زندگی، مانند طلاق یا جدایی، ممکن است بعضی اوقات باعث بروز رنج و پریشانی احساسی جدی شوند. نتایج یک تحقیق نشان داده است که حتی حالات روحی عادی بعد از پایان رابطۀ عاطفی به‌شدت شبیه علائم افسردگی هستند.

احساس افسردگی و دیگر علایمی که بعد از پایان رابطۀ عاطفی پیش می‌آید، اختلال ناسازگاری با حالت افسردگی تشخیص داده می‌شود. به این حالت افسردگی موقعیتی نیز می گویند. با اینکه این احساسات معمولاً در عرض شش ماه برطرف می‌شوند، اما درک علایم و نشانه‌های آنها اهمیت دارد تا در صورت نیاز به کمک و پشتیبانی دست یابید.

**علائم**

احساس غم و اندوه بعد از پایان رابطه می‌تواند از کم تا زیاد متغیر باشد. گاهی ممکن است این احساسات در زمانی کوتاه بسیار قوی باشند. در بعضی موارد ممکن است افراد احساس اندوه کم‌تری داشته باشند ولی این احساس زمان بیشتری طول بکشد.

از آنجاکه واکنش احساسی به جدایی می‌تواند بسیار متفاوت باشد، به‌سختی می‌توان فهمید چیزی که احساس می‌کنید، عادی است یا جدی. علایم جدی‌تر که می‌توانند نشان‌دهنده افسردگی باشند، شامل موارد زیر هستند:

احساس ناامیدی و درماندگی؛
افزایش یا کاهش وزن؛
تغییر در اشتها؛
کم یا زیاد خوابیدن؛
ازدست‌دادن علایق و لذت؛
احساس بی‌ارزش‌بودن؛
احساس غم، پوچی یا بی‌ارزشی؛
خستگی و کمبود انرژی؛
سستی و بی حالی.

احساس غم و اندوه بعد از اتفاق دردناک عادی است. تحقیقات نشان داده‌اند که جدایی به اشکال عمیقی بر افراد تاثیر می‌گذارد. بعد از پایان رابطه، افراد پیامدهای منفی مانند احساس غم، احساس تنهایی و ازدست‌دادن احساس فردیت را گزارش داده‌اند.

برای غصه‌خوردن به‌خاطر پایان رابطه، به خودتان زمان بدهید. واکنش‌های سالم عبارت‌اند از گذراندن دوره‌ای از اندوه، گریه‌کردن، ناامیدی، پشیمانی و حتی ازدست‌دادن علاقه به چیزهایی که قبلاً از آنها لذت می‌بردید. این دوره دورۀ سازگاری است. به همین دلیل، برای اینکه بتوانید به زندگی عادی برگردید، باید به خودتان زمان بدهید تا با وضعیت جدید سازگار شوید و بهبود یابید. به‌مرور زمان، این احساسات کمتر می‌شوند و درد جدایی درمان می‌شود.

اگر بعد از جدایی، علایم شما جدی‌تر از اندوه عادی باشند یا به نظر برسد که بدتر می‌شوند، لازم است که احساسات خود را با داکترتان در میان بگذارید.

**علل**

پایان رابطه عاطفی، به عنوان شکلی از افسردگی موقعیتی، مسبب به وجود آمدن این احساسات است. جدایی می‌تواند یک نقطه شروع برای ایجاد تغییرات اساسی در زندگی باشد. پایان رابطه نه تنها به این معنی است که دیگر ارتباطی با فردی که زمانی عاشقش بودید ندارید، بلکه می‌تواند منجر به یک‌سری تغییرات اساسی در زندگی شود. دوستان مشترک ممکن است جبهه‌گیری کنند. همین می‌تواند منجر به از دست‌دادن دوستی‌های دیگر نیز بشود. شاید مجبور شوید وضعیت مالی یا وضعیت زندگی‌تان را تغییر دهید یا حتی با چالش حضانت فرزندان به صورت اشتراکی نیز کنار بیایید.

جدایی حتی ممکن است دیدگاه شما نسبت به خودتان را نیز تغییر دهد. نتایج یک مطالعه نشان می‌دهد که پایان رابطه‌های عاشقانه چطور بر احساس افراد نسبت به عملکرد درسی‌شان، از جمله توانایی تمرکز، انجام تکالیف و نمرات امتحانات، تأثیر می گذارد.

مطالعه‌ای دیگر نشان می‌دهد که جدایی خودانگاره را تغییر می‌دهد و افرادی که از هم‌گسیختگی بیشتری در خودانگاره‌شان به وجود می‌آید، بعد از پایان رابطه، بیشتر دچار اندوه می‌شوند.

ممکن است همه این تغییرات چالش‌برانگیز باشند. آنها می‌توانند باعث احساس سردرگمی، ناامنی، اضطراب و اندوه در شما شوند و در بعضی موارد، ممکن است منجر به دورۀ طولانی‌تر و جدی‌تر افسردگی شوند.

**تشخیص‌ها**

افسردگی جدایی واژه یا تشخیص طبی دقیقی نیست؛ اما به این معنی نیست که احساسی که بعد از جدایی دارید، اختلالی جدی نیست. وقتی تصمیم می گیرید که با داکتر یا روانشناس خود دربارۀ آن صحبت کنید، آنها چند سؤال دربارۀ علایم‌تان از شما خواهند پرسید. باید توضیح دهید که چه علایمی دارید، چند وقت است که آنها را احساس می‌کنید و اینکه چقدر جدی هستند. بسته به علایم‌تان، ممکن است داکتر اختلال ناسازگاری با حالت افسرده (که گاهی به آن افسردگی موقعیتی می‌گویند) را تشخیص دهد. اختلالات ناسازگاری زمانی روی می‌دهند که نمی‌توانید با رویداد دردناکی در زندگی‌تان کنار بیایید. علایم تشخیص این اختلال شامل موارد زیر هستند:

- مشاهده علایم در طول سه ماه پس از اتفاقی دردناک (در اینجا جدایی)
- داشتن علایمی که بدتر از حد انتظار هستند و در روند زندگی عادی اختلال ایجاد می کنند
- داشتن علایمی که حاصل اختلالات روحی دیگر یا مربوط به استفاده از الکول یا مواد مخدر نیستند.

**درمان**

خبر خوب این است که حتی اگر دچار افسردگی ناشی از قطع رابطه عاطفی هستید، معمولاً علایم طی شش ماه به‌خودی خود بهبود پیدا می‌کنند. با گذشت زمان، وضع‌تان بهتر می‌شود و به تدریج بهبود می‌یابید. در بعضی از موارد، کم کم احساس می کنید که بهتر شده‌اید. اگر علایم‌تان خفیف هستند، با تمرین‌های خود مراقبتی و پیاده‌سازی یک سیستم خوب حمایتی می‌توانید خودتان از عهده آنها برآیید.

اگر علایم‌تان جدی هستند یا احساس می‌کنید به کمک بیشتری نیاز دارید، با داکتر یا روانشناس مشورت کنید. مشاوره می‌تواند به شما کمک کند تا چشم‌اندازی از حالات روحی خود به دست بیاورید، افکار منفی را از خود دور کنید و مهارت‌های بردباری، که همیشه برایتان مفید خواهند بود، در خود ایجاد کنید. اگر علایم‌تان جدی باشند یا نشانه‌ای از بهبودی در آنها دیده نشود، احتمال دارد داکتر برایتان دواهای ضد افسردگی نیز تجویز کند.

## سیاسیون: حکومت د سولې په تړاو د ملي اجماع په رامنځته کولو کې پاتې راغلی دی

په کابل کې د ملي شورا غړي او سیاسیون پر افغان حکومت نیوکه کوي چې د سولې لپاره د ملي اجماع په رامنځته کولو کې پاتې راغلی دی.

په کابل کې تېره ورځ د سولې بنسټ په نوم یوه سیاسي حرکت خپل شتون اعلان کړ.

د دغه بنسټ په پرانیستغونډه کې د کورنیو چارو وزارت پخواني مرستیال جنرال مرادعلي مراد ویلي، د سولې په تړاو رواني وېشلې هڅې نه شي کولی چې افغانان یوې تل پاتې سولې ته ورسوي.

هغه ویلي: «د سولې په اړه رواني وېشلې هڅې او له مختلفو ادرسونو هېڅ وخت نه شي کولی چې افغانان تلپاتې سولې ته ورسېږي، د یوې تلپاتې سولې لپاره باید د افغانانو ترمنځ یوه ملي اجماع رامنځته شي، پرته له ملي اجماع سوله نه راځي».

مراد ویلي، په داسې حال کې چې د سولې په اړه خبرې یو ځل بیا ګرمې شوې، خو د ګاونډیو او په دې برخه کې لاس په کار هېوادونو هڅې یو لاس او منسجمې نه دي.

د نوموړي په خبره، که دا هڅې سره مشترکې نه شي، کومه ګټه به ونه لري.

په ورته وخت کې د ملي شورا غړي حکومت او طالبان د سولې په اړه د ټینګې ارادې پر نشتون تورنوي. د مشرانو جرګې منشي عبدالله قرلق ویلي: «ولسمشر تر اوسه نه دی توانېدلی چې د سولې په اړه خپل واضح دریځ روښانه کړي او په دې برخه کې منظمه برنامه هم نه لري، له بلې خوا طالبانو هم تر دامهاله د سولې په اړه جدي اراده نه ده کړې». د قرلق په خبره، روان حالت د هېڅ افغان لپاره د منلو وړ نه دی او د جګړې ښکېلې خواوې دې د دغه حالت د کابو کولو لپاره لاس پکار شي. خو د ولسمشرۍ مانۍ د ویاند مرستیال دواخان مینه پال ویلي، افغان حکومت د سولې لپاره ټینګه اراده لري. هغه زیاته کړې: «حکومت پایدارې او باعزته سولې ته ژمن دی او دغه پایداره سوله د افغانانو په مالکیت راتلی شي، جمهور رییس د لومړي ځل لپاره د سولې خبرې له متن څخه خبرو ته راوستې چې ښه بېلګه یې له حزب اسلامي سره سوله وه». خو د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد رسنیو ته په استول شوي پیغام کې بیا دغه تورونه رد کړي او ویلي یې دي چې طالبانو تل د سولې لپاره خپلې هڅې جاري ساتلې، هغه نورې خواوې دي چې سولې ته ژمنې نه دي.

## ټاکنو کمېسیون: هغو ولایتونو ته پوښتنلیکونه استول شوي، چې بایومټریک دستګاوې پکې ورکې دي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، هغو ولایتونو ته یې رسماً پوښتنلیکونه لېږلي چې پکې بایومټریک دستګاوې ورکې شوې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د تلې د شپږمې له ولسمشریزو ټاکنو وروسته، د بایومټریک دستګاوو د ورکېدو په اړه بېلابېلې اندېښنې مطرح شوې دي.

پر ټاکنو څارونکو بنسټونو له ټاکنو وروسته وویل، د دوی معلومات ښيي چې سلګونه بایومټریک دستګاوې ورکې دي، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي چې یوازې ۱۹۹ دستګاوې ورکې شوې دي.

د دغه کمېسیون د دارالانشا رییس حبیب الرحمن ننګ ازادي راډیو ته ویلي، د کابل په ګډون یې ټولو ولایتونو ته ۳۹۱۱۶ بایومټریک دستګاوې استولې وې چې له دې شمېرې یې ۳۸۹۱۶ بېرته د کمېسیون مرکزي دفتر ته رسېدلې دي.

ننګ زیاته کړې، د ټاکنو خپلواک کمېسیون اوس هغو ولایتونو ته چې پکې بایومټریک دستګاوې ورکې شوې، رسماً پوښتنلیکونه لېږلي او له اړوندو ادارو یې غوښتي چې له هغو کسانو چې په دې برخه کې مسوول دي، پلټنې وکړي.

هغه ویلي: «ټول هغه کسان چې دا بایومټریک دستګاوې یې ورکې کړې، ورنه پلټنې کېږي، دا ټولې بایومټریک دستګاوې به پیدا کېږي، موږ په دې برخه کې ژمن یو او که چېرې پیدا نه شي، موږ به وروستۍ شمېرې له خلکو سره شریکې کړو».

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوه کمېشنر اورنګزېب هم هغه راپورونه رد کړي، چې ډېرو ولایتونو ته د لېږدول شویو بایومټریک دستګاوو له ډلې ۱۵۰۰۰ یې ورکې دي. اورنګزېب ویلي، له سلو زیاتې بایومټریک دستګاوې او د دستګاوو ۴۹۵ میموري کارټونه ورک دي.

بلخوا پر ټاکنو څارونکي بنسټونه بیا د کمېسیون له دې پرېکړې هرکلی کوي چې د بایومټریک دستګاوو د ورکېدو په اړه یې د دولتي ادارو په مرسته، له مسوولانو د پوښتنې بهیر پیل کړی دی.

د افغانستان د روڼتیا او پر ټاکنو د څار بنسټ یا ایتوا اجرایه رییس حبیب الله شینواري ویلي، دا اړینه ده چې د بایومټریک دستګاوو د ورکېدو لامل روښانه شي. هغه زیاته کړې: «چا چې ناغېړي کړې وي، باید وپېژندل شي او څارنوالۍ ته معرفي شي، له دوی باید وپوښتل شي چې ایا نوماندانو پرې فشار راوستی او که یې پیسې ورکړې، که هره ستونزه وي، باید مشخصه شي چې ولې بایومټریک دستګاوې ورکې دي».

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۵ |
| € | ۸۶,۴۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۹۹,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




یکشنبه د ۱۳۹۸ د لړم پنځمه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۷مه | ۴۵۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | ۲۲ | ۲۹ | ۲٤ | ۲۹ | ۲۳ |
| ۸ | ۱۰ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۷ | ۱۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤٥ | لمر ختل ۰٦:۰۷ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۲:٤۳ | ماښام ۰٥:۰۷ | ماخوستن ۰٦:۳۱

## نړۍ




## روسیه: په سوریه کې د امریکایي پوځیانو ځای پر ځای کول د قاچاقبرانو ګټې خوندي کوي



د روسیې دفاع وزارت د امریکا پر هغه پلان نیوکه کړې چې غواړي د سوریې په ختیځ کې خپل پوځي حضور دوامداره او پیاوړی کړي.

روسیې ویلي، د امریکا دغه اقدام د امنیت د ټینګښت پر ځای، د تېلو د قاچاقبرانو د ګټو د ساتلو لپاره شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر ورمه ورځ وویل، چې ټاکل شوې تازه امریکایي ځواکونه د سوریې په نفتي ساحو کې ځای پر ځای شي چې د تېلو زېرمو ته د داعش ډلې د لاسرسي مخنیوی وکړي؛ خو د روسیې دفاع وزارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې نړیوال قوانین او همداشان د امریکا داخلي قوانین دغه هېواد ته اجازه نه ورکوي، چې په سوریه کې خپل پوځي حضور زیات کړي.

په دغه اعلامیه کې ویل شوي: «د واشنګټن اوسني اقدامات، د سوریې په ختیځ کې د نفتي ساحو نیول او کنټرولول په څرګنده یوه نړیواله غلا ده».

په اعلامیه کې ویل شوي چې امریکایي سرتېري او د سوریې په ختیځ کې خصوصي امنیتي شرکتونه د تېلو د قاچاقبرانو پر ساتنه مشغول دي، چې د روسیې د دفاع وزارت په خبره، میاشتنی عاید یې څه دپاسه ۳۰ میلیونو ډالرو ته رسیږي.

د یادونې ده چې روسیه د سوریې د ولسمشر بشارالاسد د رژیم ملاتړې ده او تل یې په سوریه کې د امریکا پر پوځي حضور نیوکې کړې دي.

## په ایتوپیا کې پر تاوتریخوالي د لاریونونو اوښتو له کبله لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې



د راپورونو له مخې، په ایتوپیا کې د لاریونونو پر مهال د تاوتریخوالي له کبله ٦۷ تنه وژل شوي او لسګونه نور ټپیان دي.

دا په داسې حال کې ده چې د دغه هېواد په ډېرو ښارونو کې وروسته له هغې لاریونونه پیل شول، چې پولیسو د دغه هېواد د لومړي وزیر د مخالف او مشهور سیاستمدار جاور محمد کور محاصره کړ.

دغه لاریونونه وروسته له هغې پر تاوتریخوالي واوښتل کله چې لاریون کوونکو له پولیسو سره نښتې پیل کړې. د رویټرز خبري اژانس د راپورونو له مخې، تر دې مهاله په دغو نښتو کې ۷٦ تنه وژل شوي او تر سلو زیات ټپیان دي.

د پولیسو یوه چارواکي د نوم نه ښودو په شرط رویټرز ته ویلي چې په وژل شویو کې ٦۲ تنه لاریون کوونکي او پاتې نور یې پولیس دي.

په ورته وخت کې جاور احمد په خپل سیاسي مخالف او د دغه هېواد په لومړي وزیر ابي احمد علي تور پورې کړی، چې غواړي د راتلونکې کال ټاکنې له خنډونو سره مخ کړي.

د یادونې ده چې د ایتوپیا اوسنی لومړی وزیر چې تازه یې د ۲۰۱۹ ز کال د نوبل د سولې نړیواله جایزه هم ګټلې، په ۲۰۱۸ ز کال کې واک ته ورسېد.

## نهادهای مدنی: کمیشنران کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی باید به گونهٔ رقابتی انتخاب شوند



نهادهای مدنی می گویند که کمیشنران کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی افغانستان، باید به گونهٔ رقابتی انتخاب شوند و گزینش آنها نباید مانند وزرای کابینه با تفاهم سیاسی باشد.

نهادهای حقوقی و جامعه مدنی، دیروز در یک نشست در کابل، خواستار گزینش کمیشنران دور سوم کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی، از طریق یک برنامه «باز و رقابتی» از سوی ریاست جمهوری شدند.

بر اساس معلومات مسئولان نهادهای حقوقی و جامعه مدنی، کمیشنران فعلی کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی، در سال ۱۳۹۴ از یک پروسهٔ بسته، غیر رقابتی و سیاسی انتخاب شده اند و از ولسی جرگه رأی گرفتند.

زمان کار کمیشنران کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی، تا دو ماه دیگر به پایان می‌رسد. این کمیسیون هفت عضو دارد که از سوی رئیس جمهور، با کسب رأی اعتماد ولسی جرگه برای چهار سال تعیین می شوند.


سید اکرام افضلی رئیس اجرایی دیده بان شفافیت، در نشست نهادهای حقوقی و جامعه مدنی گفت: «کمیشنران کمیسیون‌ها و ادارات مستقل دولتی به ویژه کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی، نباید مانند وزرای کابینه با تفاهم سیاسی انتخاب شوند؛ چون ماهیت کارشان نظارت بر عملکرد قوه اجرایی و دیگر قوای دولتی است».

کمیسیون نظارت بر تطبیق قانون اساسی، بر اساس ماده ۱۵۷ قانون اساسی پس از شش سال تأخیر در سال ۱۳۸۹ به کار آغاز کرد.

عبدالوحید فرزه‌یی عضو شورای رهبری اتحادیه حقوق‌دانان افغانستان، در نشست دیروز گفت: «پروسه‌های گذشته گزینش کمیشنران کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی، سیاسی بوده و این روند بر عملکرد آن کمیسیون تاثیر گذاشته است».

## ژوند


## له شته امکاناتو مو ګټه واخلئ!




ډېر کله فکر کوو، که مو ډېرې پیسې لرلای، هیلو ته به مو خامخا رسېدلي وای، که مو تر دې لوی کور درلودی، په ژوند کې به خوښ وای، که مو ښه ورتیا لرلی، ښه شخصیت به مو درلود او که مو ښه انسانان پېژندلی، لوی لوی کارونه به مو کړي وای؛ خو کله چې فکر کوی دغه څه نه لرې، د کمښت احساس کوی، دا نو بیا تر ټولو ښې پلمې دي، څو له هڅې لاس واخلی. له دې وروسته باید یو نوی لیدلوری ولرې، خدای پاک تاسې ته هغه څه درکړي چې اړتیا ورته لرې. تاسې وړتیا، ملګري، اړیکې، سرچینې او د اړتیا وړ کافي تجربه لرې. دا په دې مانا هم نه ده چې ستاسې د اړتیا وړ شیان یوازې همدا دي.

کېدای شي راتلونکې میاشت یا راتلونکی کال له دې ډېرو شیانو ته اړتیا پیدا کړې. کله یې چې وخت را ورسېږي، خدای پاک یې هرومرو درکوي. هغه کسان چې پر خدای پاک ایمان او باور لري، هېڅکله په خپل وجود کې د کمښت او کمبودۍ احساس نه کوي. کله چې تاسې پر خدای پاک ایمان او باور ولرئ، بیا نو اړتیا نشته چې د کمښت او یوازیتوب احساس وکړئ. هرڅه ته چې اړتیا ولرئ، خدای پاک یې تاسې ته د اړتیا پر مهال درکوي.

## دغه عادتونه مو ځیګر خرابوي



ځیګر د حیاتي غړو له ډلې شمېرل کېږي، چې ډېرې دندې تر سره کوي. د بېلګې په توګه، وینه تصفیه کوي، وینې ته له جذب شویو موادو څخه مضر توکي بېلوي او د ځیګر اړوند هورمونونه تولیدوي. که ځیګر زیانمن شي، نو خپله دنده سمه پر مخ نه شي بېولی او له همدې کبله انسانان له ډېریو ناروغیو سره مخ کېږي.

غیر سالم غذایي رژیم او د ژوند نامنظمه تګلاره د ځیګر د ناروغیو اصلي لامل کېدای شي. د خواشینۍ وړ خبره دا ده چې د ځیګر د ناروغیو درملنه په سختۍ کېږي او ډېر کله ان د درملنې وړ هم نه وي. نو ښه ده چې د روغتیا لپاره یې دغه ټکي په پام کې ونیول شي.

څېړنو ښودلې چې پر الکولو سربېره، نوشابې هم د دې لامل کېږي چې تاسو د ځیګر د غوړوالي پر ناروغۍ اخته شئ. که څه هم چې په دې برخه کې لا څېړنې روانې دي، خو همدا څېړنې هم د دې دلیل کېدای شي چې د دغه ډول نوشابو له څښلو ډډه وکړئ.